(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک


| ګڼه | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| ۱- | د جغرافیې بنسټ (مبادي) | (۱) |
| ۲- | د څپرکي موخې(هدفونه) | (۲) |
| ۳- | لومړی لوست – جغرافیایي مفاهیم او اصطلاحات | (۳) |
| ٤- | دویم لوست – آیا ځمکه کروي شکل لري؟ | (٥) |
| ٥- | دریم لوست – د استوا کرښه او اقلیمي سیمې | (۷) |
| ٦- | څلورم لوست – شمالي او سویلي نیمې کرې | (۱۱) |
| ۷- | پنځم لوست – د ځمکې شمالي او سویلي قطب | (۱۳) |
| ۸- | شپږم لوست – عرض البلد | (۱٥) |
| ۹- | اووم لوست – د طول البلد پوهیدل څه اهمیت لري؟ | (۱۷) |
| ۱۰- | اتم لوست – د ځمکې وضعي حرکت او د هغه پایلې | (۱۹) |
| ۱۱- | نهم لوست – د ځمکې انتقالي حرکت | (۲۱) |
| ۱۲- | د لومړي څپرکي خلاصه | (۲۳) |
| ۱۳- | دویم څپرکی - د افغانستان جغرافیه | (۲٥) |
| ۱٤- | د څپرکي موخې(هدفونه) | (۲٦) |
| ۱٥- | لسم لوست – د افغانستان موقعیت او څلور خواوې | (۲۷) |
| ۱٦- | یوولسم لوست – طبیعي جغرافیه | (۲۹) |
| ۱۷- | دوولسم لوست – د افغانستان د اقلیم په اړه څه پوهیږئ؟ | (۳۱) |
| ۱۸- | دیارلسم لوست – غرونه | (۳٥) |
| ۱۹- | څوارلسم لوست – د افغانستان سیندونه، د کرنې او انرژۍ د تولید وسیله | (۳۹) |
| ۲۰- | پنځلسم لوست – د افغانستان د نورو حوزو سیندونه | (٤۳) |
| ۲۱- | شپاړسم لوست – د افغانستان د جهیلونو په اړه څه پوهیږئ؟ | (٤٥) |
| ۲۲- | اوه لسم لوست – بشري جغرافیه | (٤۹) |
| ۲۳- | اته لسم لوست – د افغانستان اقتصادي جغرافیه | (٥۱) |
| ۲٤- | نولسم لوست – طبیعي او صنعتي نباتات | (٥٥) |
| ۲٥- | شلم لوست – د افغانستان مالداری، څړځایونو او ځنګلونو په هکله څه پوهیږئ؟ | (٥۹) |
| ۲٦- | یوویشتم لوست – کاني منابع | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

(٦٣)
٢٧- دوه ويشتم لوست – كاني سون مواد ........ (٦٧)
٢٨- در ويشتم لوست – په افغانستان کې صنايع او سوداګري ........ (٦٩)
٢٩- څلرويشتم لوست – مواصلاتي جغرافيه ........ (٧٣)
٣٠- د څپرکي خلاصه ........ (٧٧)
٣١- دريم څپرکی- د آسيا لويه وچه ........ (٧٩)
٣٢- د څپرکي موخې ........ (٨٠)
٣٣- پنځه ويشتم لوست – د آسيا د لويې وچې موقعيت او څلورخواوې ........ (٨١)
٣٤- شپږويشتم لوست – طبيعي جغرافيه ........ (٨٣)
٣٥- اوه ويشتم لوست – د آسيا د لويې وچې د سيندونو په اړه څه پوهيږئ؟ ........ (٨٥)
٣٦- اته ويشتم لوست – د آسيا د لويې وچې جهيلونه، سمندرګي او خليجونه ........ (٨٧)
٣٧- نهه ويشتم لوست – د آسيا د لويې وچې اقليم ........ (٩١)
٣٨- ديرشم لوست – بشري جغرافيه ........ (٩٥)
٣٩- يو ديرشم لوست – اقتصادي جغرافيه ........ (٩٩)
٤٠- دوه ديرشم لوست – کانونه او صنايع ........ (١٠٣)
٤١- درې ديرشم لوست – د آسيا مواصلاتي جغرافيه ........ (١٠٧)
٤٢- څلور ديرشم لوست – د آسيا سياسي جغرافيه ........ (١٠٩)
٤٣- د آسيا د لويې وچې د هيوادونو لست ........ (١١١)
٤٤- د څپرکي خلاصه ........ (١١٣)
٤٥- جغرافيايي اصطلاحات ........ (١١٥)

(c) ketabton.com: The Digital Library

– ځمکه په ۲۴ ساعتونو کې په خپل چاپېر ګرځي چې دا حرکت د ځمکې د وضعي حرکت په نامه یادیږي او د هغه په نتیجه کې شپه او ورځ مینځته راځي. ځمکه په ۳۶۵ ورځو او شپږو ساعتونوکې د لمر پر چاپیر ګرځي چې دا حرکت د ځمکې د انتقالي حرکت په نامه یادیږي او د هغه له نتیجې څخه د کال څلور فصلونه مینځ ته راځي.

د ځارویو په وسیله او د کروندګرو د مټو او لاسونو په زور ترسره کیږي.

زموږ د هیواد کرنیز حاصلات غلی دانې، لکه: غنم، وربشې، جوار، وریجې، ګدن، لوبیا، نخود، مۍ، مشنګ، باقلي او داسې نور دي.

## غنم

دغنمو کرل په کرنیزو ځمکو کې په اوبیز او للمي توګه د مني او پسرلي په موسمونو کې سرته رسیږي. د مني غنم په تودو سیمو کې تر (۲۵۰۰) مترو لوړوالي او پسرلني غنم په اوبیز او للمي توګه تر( ۳۳۰۰) مترو لوړوالي پورې کرل کیږي. په سړو سیمو کې د کال یو یا دوه فصله حاصل اخستل کیږي او د تودو برخو په ځینو سیمو، لکه: ننګرهار کې یوکال د یوې کرنیزې ځمکې څخه تر درې فصله هم حاصل اخستل کیږي.

للمي غنم د کب او وري په میاشتو کې د غونډیو په لمنو او هوارو ځمکو کې کرل کیږي، چې د پسرلنیو اوربښتونو په وسیله خړوبیږي.

افغانستان ۲۲ ملیونه هکتاره ځمکې لري، چې تر اوسه یې یوازې ۳،۳۷ ملیونه هکتاره ځمکه د غنمو کرنې ته ځانګړې شوې ده.

د غنمو کروندې





(c) ketabton.com: The Digital Library

## ب ـ په افغانستان کې ماشيني صنايع

افغانستان د ماشيني صنايعو له نظره د مخ پر ودې هيوادونو له ډلې څخه دی. د ماشيني صنايعو بنسټ لومړی ځل د امير شيرعلي خان په دوره کې کېښودل شو او د امير عبدالرحمن خان په دوره کې دوه صنعتي فابريکې د ماشين خانې، او وړې اوبدلو د فابريکو په نامه تاسيس شوی چې د هغو توليداتو د عسکري قطعاتو اړتيا پوره کوله. د افغانستان د نورو مهمو ماشيني صنايعو په لړ کې کولای شو د کابل جنگلک فابريکې، د بغلان بورې جوړلو فابريکې، د کندز د سپين زر غوړي، د مزارشريف د بريښنا او بخار پروژه، د سمټو فابريکې، د اوبو د بريښنا د دستگاوو لکه: نغلو، سروبي، درونټې، ماهيپر، کجکي او گرشک څخه نوم واخلو.






(c) ketabton.com: The Digital Library

اته ویشم لوست

# د آسیا د لویې وچې جهیلونه، سمندرگي او خلیجونه




بنه ده چې زده کوونکي د آسیا د وچې جهیلونو، سمندرګیو او خلیجونو په اړه معلومات ولري.

د آسیا مهم جهیلونه اکثرا د روسیې په سایبریا، چین، قزاقستان، منځنۍ آسیا، سهیل ختیځ او لویدیځ آسیا کې پراته دي چې مهم یې دادي:

په سایبریا کې د بایکال جهیل چې د انګارا د سیند په اوږدوکې منزالي اوبه لري، اعظمي اوږدوالی یې ۷۰۰ کیلومتره او سور یې ۱۳۰ کیلومتره دی.

د خانکا جهیل د چین په ختیځ کې، په قزاقستان کې د بالخاش او ارال جهیلونه نامتو دي.

په قرغزستان کې د بسیک کول جهیل نامتو دی.

په افغانستان کې د چقمقتین او شیوا جهیلونه، د امیر بند، د غزني ولاړې اوبه او د سیستان هامون جهیل ډېر نامتو دي.

د ایران په لویدیځ کې د ارومیه جهیل نامتو دی.

په ترکیه کې د وان جهیل نامتو دی.

د سون کاری جهیل د شمالي کوریا په شمال کې، لوب نور او یو شمیر زیات نور جهیلونه چې توریستي زیاتې منظرې لري نامتو دي چې هر کال یو شمیر سیلانیان د هغو جهیلونو لیدوته ورځي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۸ ـ د استوایي سوانا اقلیم

د دوبي ورښت بې له ۸۰۰ ملي مترونه زیات دی. د اوړي او ژمي تودوخه بې زیات بدلون نه لري د ۲۰ او ۳۰ درجو په منځ کې بدلون لري د هند و چین ټاپو وزمه او د هند د نیمې قارې زیاته برخه دا ډول استوایي سوانا اقلیم لري. جګ جګ بوټي، میوه لرونکې او بې میوې ونې پکې شنې کیږي.



## ۹ ـ د ا ستوا د باراني ځنګلونو اقلیم

د شرق الهند ټاپوګان، د هندوچین لویدیځ سواحل د بنګله دیش سویل او د شمال لویدیځ هند یوه برخه په دې کې شامل دي. کلنی ورښت بې ډېر زیات دی او په هره میاشت کې له ۵۰۰ ملي مترو څخه زیات ورښت لري. په دې ځای کې د کال فصلونه نشته، کلنۍ منځنۍ تودوخه بې د ۲۵ او ۳۰ د سانتي ګرید درجو په منځ کې ده. هوایې تل توده او لنده وي. د ربړ ونې بې له مهمو پیدا وارو څخه دي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

